استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

از منابع دیگر	یکشنبه ۳۰ نوامبر ۲۰۲۵

نویسنده: فضل حق مراد

# د ثور د ۷ کودتا د زړه بوږنوونکې لړۍ پیل

د ۱۳۵۷لمریز کال د ثور ۷ مې خونړۍ کودتا له امله د افغانانو د وینې بهېدنې ځپانده او نه هیریدونکې لړۍ پیل شوه. داسې نادودې او ناورینونه یې رامنځ ته کړل چې ساری یې ډیر کم تر



سترګو کیږی. د دومره لوی بحث درانغاړلو زغم به دا لیکنه ونه لري. دلته د ثور د اوومې پېښو ته لنډه اشاره شوې چې د تفصیل لپاره یې د مراجعو حواله د دې لپاره ورکړل شوې چې پر واقعیتونو د نوي افکار روښانه شي او تیر اشتباهات او تیروتنې ورته د عبرت درس شي. وړاندې له دې چې د ثور د اوومې له امله په رامنځ ته شویو پېښو او ناخوالو باندې تم شو؛ د جمهوریت د دورې اصلاحاتو ته یو ځغلنده نظر کوو:

سردار محمد داود خان چې دیوې سپینې کودتا په ترڅ کې یې قدرت ترلاسه کړ، د جمهوریت بنسټ یې کیښود. دقوانینو په برخه کې یې اساسي قانون یې تدوین او د لویې جرګې له لورې تصویب شو.

د مطبوعاتو اساسنامه او ازادو مطبوعاتو د ودې لپاره یې لازمه زمینه سازی وکړه. دهیواد بنیرازۍ په برخه کې یې اووه کلن ستراتیژیک پلانونونه چمتو کړل، چې پکې د برېښنا بندونه، د ریل پټلی، په کابل کې د موټر جوړونې فابریکې او یو لړ نورې رغنیزې پروژې شاملې وې. که چېرته د عملي کیدو موقع ورکړل شوی وای، د هیواد اقتصادي حالت به د ژور بدلون شاهد وو.

د داود خان د حکومت په چارو کې د پرچمیانو ونډه ډېره زیاته وه، د چارو په پرمخ وړلو کې پرچمیانو د خپلو بادارانو (روسانو) ګټې لټولې، ځکه خو د داود خان حکومت په وړاندې ستونزې ډیرې وې، د داود خان د حکومت پر مهال پرچمیان پوره په واک کې وو، هغه مهال یې داود خان

ته د زغم کاسه ډکه شوه، کله چې په مسکو کې برژنف، سردار داود خان ته وویل پخوا به د ناټو متخصیصنو ته د افغانستان په شمال کې اجازه نه ورکول کیده، اوس د دې تعامل نه پیروي نه کیږی داود خان دا او د افرادو ګمارل د افغانستان په چارو کې د روسانو بربنډه لاس وهنه یاده کړه مجلس یې ترک کړ، او هیواد ته راستون شو. محمد داود خان د اسلامي هیوادونو سره اړیکې ټینګې کړې او د اسلامي هیوادونو د بلاعوضه مرستو ډاډ یې تر لاسه کړ. دا او د کمونستانو د دندو د لرې کول چې روسانو ته د زغم وړ نه وو؛ نو ځکه ۱۳۵۷ کال د ثور په اومه خونړۍ کودتا وکړه چې په ترڅ کې یې د داود خان د کورنۍ ۱۷ غړي ووژل شول او د وینو بهولو پراخه لړۍ پیل شوه. د دې کودتا په لومړۍ ورځ په سلګونو افسران او عسکر ووژل شول، د دې کودتا تر شاه ستره موخه د روسانو د ګټو ساتنه وه هغوی وکولی شول، چې د هیواد د چارو واګې پخپل لاس کې ونیسي. د هیواد ترټولو ستر او نه جبیره کیدونکی زیان چې ترننه یې موږ لالهانده کړي یو، د هیواد د استقلال لوټل وو چې هیواد یې در په در او د نه اټکل کیدونکو ستونزو سره یې مخ کړو. د دې کودتا وروسته د کمونیزم ایډیالوژي د خپرولو مبارزه په افراطي توګه پیل شوه. د دې ایډیالوژۍ نه منونکو څخه په افغانستان کې د ژوند کولو حق سلب وو. پدې اړه دلایلو ته به لږ وروسته سر ورښکاره کړو: دا کودتا د روسانو په لارښوونه او دستور تر سره شوه.

په دې اړه استاد شهسوار سنګروال ((افغانستان د معاصر تاریخ په رڼا کې)) کتاب په ۴۹۸ ص کې لیکي: [ببرک کارمل چې کله د واک په ګدۍ کیناست د یوې هندۍ ورځپاڼې چلوونکي سره په مرکه کې ویلي دا انقلاب د روسانو غوښتنه وه، همدا راز د کی جي بي یو مامور چې په امریکا کې سیاسي پنا اخیستې د کودتا په اړه وایي: کله چې محمد داود خان د خیبر د وژلو وروسته، کمونستان ونیول، دوی د مسکو د سفارت سره اړیکه ونیوله، سفارت ورته ویلي و که دوی په کودتا لاس پورې کړي مسکو به یې مرسته وکړي.

په دې اړه د ډیرو نقلي دلایلو د شتون تر څنګ عقلي دلایل ګواهي ورکوي چې کمونستانو روسانو ته د خپل هیواد ورکولو او د هغوی د ګټو خوندي کولو لپاره په هیواد کې دا اور بل کړ. دوی دا په ګوته کولی شي چې د هیواد لپاره یې کومه رغنیزه برنامه لرله؟ داود خان چې کومې طرحې د هیواد د بنیرازۍ لپاره چمتو کړې وې، هغه لکه د داود خان جسد تر خاورو لاندې شوې، د تامل وړ بدلونونه رامنځ ته شول د هیواد اساسي قانون لغوه شو، ځای یې داسې فرمانونو ونیو چې د ټولنې د جوړښت سره یې په هیڅ صورت اړخ نه لګولو، د هیواد ملي بیرغ په سور رنګه بیرغ بدل شو،

ملي سرود بدل شو، د ښونځيو نصاب بدل شو، په ښونځيو کې د نر او ښځو د رقص او نڅا کنفرانسونه پيل شول، چې ګوندي کمونستانو به پکې لستوڼي ويستلي وو.

داسي نامناسب بدلونونه رامنځ ته شول چې هيڅکله د افغان متدين ولس ته د منلو وړ نه وو، د لينن کبير کلمه چې هيڅکله افغانانو ته د منلو نه وه، د هرې بيانيې په سر کې استعماليده: درود په لينن کبير او د اسلامي مقدساتو سپکاوی دوی ستر وياړ د ځان لپاره ګڼلو، لمونځ ته سپورت وويل شو. د مسلمانانو سپکاوی يې کاوه، ښځې يې د شرابو او د نڅا محفلونو ته ورلې او هرچا به چې د دوی په داسي محفلونو کې ونډه نه اخيسته، له هغه د اخواني، اشرار او فيوډال په تور تورنيده، بيانو د يو ناڅرګند برخليک سره لاس او ګريوان وو. د ملت په وړاندې يې پراخه جګړه پيل کړه، په لومړی سر کې علمي او اکاډميکو اشخاصو پيل وکړ، چې دهيواد د صدراعظم محمد موسی شفيق، سيد وحيدعبدالله او وفيع الله په شمول يې ۱۷۰ ارکان حرب او علمي څېړو په وژلو يې دا لړۍ پيل کړه، د جاندارم عمومي قومندان حضرت محمد ابراهيم يې د کورنۍ د۱۷ غړو د ماشومانو او ښځو په ګډون تري تم کړ.

کمونستانو چې دملت وژنې لپاره کومې طرحې چمتو کړې وې، په پرلپسې توګه د ماخذ د يادولو سره ترينه يادونه کوو: د اګسا جاسوسي سازمان يې د شکنجې په عصری وسايلو سمبال کړ، د شکنجو او ربړونو لپاره يې دولتي پخوانۍ جوړې شوې ودانۍ ځانګړې کړې، چې د صدارت، کورنيو چارو وزارت، دفاع وزارت، هوايي ډګر او د ۴۰۰ بستر روغتون زيرزميني، چې په دې کې به له بنديانو په ژوندوني، ځرمن ايستل کيده؛ نوکان به ترې ايستل کيدل او د روسي متخصصينو په ملتيا به له بنديانو څخه وينه او ګُردې ايستل کيدې او له پيک کيدو وروسته به مسکو ته استول کيدې...

salamwatanam@gmail.com